مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی

۲۰۲۲/۱۲/۲۲

# د اسلامي امارت مشرانو ته دوهم پرانيستی ليک

«المُلکُ يَبقی مع الکُفر و لا يبقی مع الظُّلم» د کفر پاچهي دوام کوي خو د ظلم پاچهي دوام نه کوي. دا عربي مقوله که د نړۍ په تاريخ يا د نړی په نورو سيمو او نقطو کي صدق کوي او که يې نه کوي؛ په افغانستان کي يې موږ په دې تېرو څلوېښتو کلونو کي شاهدان يو. د خلقيانو او پرچميانو نظام، د مجاهدينو حکومت او وروسته ستاسي لومړنی حکومت يوازي د امريکا او ناټو د قواوو په زور نسکور نه سو بلکه ستاسي له هغه نظام څخه د هيواد په سلو کي ۹۹ اوسېدونکي ناراض ول. او هغه ناراضيت ما پخپلو سترګو په کندهار، کابل او جلال آباد کي وليدی. که امريکايانو او ناټو حمله نه وای کړې ستاسي هغه نظام بالاخره د خلکو د قهر او غضب قرباني کېدی.
تېرشل کلن نظام هم د خپلو بې عدالتيو، فساد، رشوتونو، خپل سريو او ظلمونو قرباني سو. په جرأت سره ويلای سم چي له هغه نظام څخه به په هيواد کی يوازي فاسد مامورين او هغه کسان راضي ول چي بې ساري ناروا مادي ګټې يې تر لاسه کولې.
اولس تاسي ته پناه راوړه او تاسي له هغه نظام څخه د اولس د ناخوښۍ او نارضاييت له امله قدرت ته ورسېدلاست.
خو دم ګړی، په جرأت درته ويلای سم، چي په هيواد کي، پرته له طالبانو، ټول انسانان درڅخه ناراض دي. ښځينه ډاکټرانو او نرسانو ستاسي د ظلم او تېريو او د نجونو دتعليم او تحصيل د بندولو پرضد اعتصاب وکړ. د هغوی د دغه اعتصاب لومړنی تاوان هغو ناروغانو ته رسيږي چي د ښځينه ډاکټرانو عاجلو مرستو ته ضرورت لري او دا وبال به يې ستاسي په غاړه وي.
خلک د لوږي او بېکاری سره لاس او ګرېوان دي. د کورونو کرايه او د اولاد لپاره وچه ډوډۍ نه لري. د مسلکي او لايقو کسانو ځايونه ستاسو طالبانو نيولي دي او هغوی په يوه ګوله ډوډۍ پوري حيران دي؛ او ستاسي طالب اولسوالان و واليان ځيني دوهم، ځينی دريم او ځينی څلورم واده کوي.
که تاسي دغو ظلمونو ته دوام ورکړی. د نجونو ښوونځي او پوهنتونونه همداسي بند پرېږدی. پر ښځو باندي قيوداتو او ظلمونو ته دوام ورکړی. د خلکو آزارولو ته دوام ورکړی نو خلک د لوږي، بېکاری او بې کورۍ تر څنګ ستاسي د ظلمونو طاقت نه سي راوړلای. په خپل طاقت مه مغرورېږی. تاسي وليدل چي د نړۍ تر ټولو ستر طاقت متحده ايالاتو او ناټو له خپلو ټولو وسلو او زور سره د خلکو د نارضاييت په مقابل کي طاقت رانه وړ. د امريکا ماته يوازي ستاسي کمال نه وو. تاسي فکر کوی چي که د افغانستان د ناراضي خلکو ملاتړ درسره ملګری نه وای تاسي به يوازي د پاکستان په زور، چي پخپله د لويو طاقتونو خيرات خور دی، امريکا ته ماته ورکړې وای؟ او اوس چي قدرت ته ورسېدلاست نو بيرته مو د هغه دردېدلي او کړېدلي اولس، چي تاسي ته يې پناه راوړې وه، کړولو او زورولو ته مخه کړه.
نه افغانستان د يوې ګوښه جزيرې په څېر له ټولي نړۍ څخه بېل ژوند کولای سي او نه دا هيواد په داخل کي يوازي په شروط الصلاة او خلاصه کيداني چلېدلای سي. ستاسي د عالی تحصيلاتو د وزير دا وينا چي اسلامي امارت غواړي پوهنتون جاري کړي خو د نوي تعليمی نصاب په وسيله به د مدرسې او پوهنتون تر منځ فاصله لنډه کړي معنی دا ده چي تاسي غواړی له پوهنتونونو څخه مدرسې جوړي کړی. هيواد يوازي په مدرسو نه جوړيږي.
هيواد انجنيرانو، ډاکټرانو، اقتصادپوهانو، د زراعت ماهرانو، حقوق پوهانو، تاريخ پوهانو، اديبانو، د کمپيوټر متخصصينو او د هر ډول عصري زده کړي فارغانو او پوهانو ته ضرورت لري. دا عصری علوم نه يوازي په شروط الصلاة او نه په صرف مير او مختصر کي سته.
که د ۱۴۰۰ کاله مخکي اسلامي نظام خبره وي موږ به ستاسي سره څه ونه وايو. خو افغانستان هغه زمانې ته رجعت کولای نه سي. تاسي ټول ساعتونه، موبايل ټلفونونه، زغره وال موټرونه نه لری؟ د کفارو په ملکونو کي له جوړوسويو ټوکرانو جامې نه اغوندی، په هوايي جهازونو کي سفرونه نه کوی؟ دا ټول هغه شيان دي چي ۱۴۰۰ کاله مخکي موجود نه ول او که اوس کار ورڅخه وانه خلی يوه ورځ ژوند نه سی کولای. او تر ټولو مهمه خو دا



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

ده چي تاسي له يوې خوا د امريکا او د هغه حکومت د دسيسو پر ضد تبليغات کوی او له بلي خوا د هغوی څخه په سل ګونو ميليونه ډالره مرستی اخلی او تر اوسه پوري مو لږترلږه څه کم دوه ميلیارده ډالره، د بشري مرستو په نوم ورڅخه تر لاسه کړي دي. دالر يې حلال دی. راډيو او تلويزيون يې حرام دي!!!
د افغانی د نسبتي ثبات يوازينی عامل همدغه د امريکا، په مياشت کي، ۴۰ ميليونه ډالر دي. فکر کوی چي نن ورځ له خلکو څخه څه پټ پاتېدلای سي؟
په ټولي نړۍ کي بل داسي اسلامي هيواد هم سته چي د نجونو تعليم او تحصيل پکښي بند وي؟ دا چي تر اوسه پوري هيڅ اسلامي هيواد، حتی پاکستان، سعودي عربستان او قطر په رسميت نه ياست پېژندلي دا ستاسي لپاره ښه زېری نه دی. او يوه ورځ به داسي راسي چي دا بين المللی تجريد به ستاسي د بشپړ سقوط عامل سي.
پر هوښ راسی! افغانستان د تباهی کندي ته مه غورځوی. يوازي د نن ورځي په قدرت مه خوشاله کېږی. دا قدرت يو ځل مخکي هم تاسي آزمېيلی دی. بدي ورځي تمام نه لري. يوه ورځ بيا هم هغه حالت راتلونکی دی چي چاته د ګيدړي غار په سرقلفي نه پيداکېدی.
په زغرده درته وايم چي ستاسي څخه په ميليونونو ناراض کسان به ستاسي له هر دښمن سره لاس يو کړي او په نتيجه کي به ستاسي داځل سقوط پر هيواد باندي داسي فاجعه نازله کړي چي ښايي په خپل تاريخ کي به يې نه وي ليدلي. او دا هم درته وايم چي زه ستاسي سقوط او فاجعه آمېزه سقوط په سترګو وينم. دا اخطار نه دی او نه زما په خبر، د ګور پر غاړه بې وسه، بوډا تاسي ته د اخطار درکولو توان او صلاحيت لري. دا خبرداری دی او که متوجه نه سی نو بيا به يوه ورځ اوبه تر ورخ اوښتي وي.
د اسلامي اِمارت درنو مشرانو! تاريخ ثابته کړې ده چي قدرت په زور نيول کېدلای سي مګر په زور ساتل کېدلای نه سي. تاسي له اميرالمومنين له مقام څخه نيولې تر وزير، معين، والي، اولسوال، رئيس او حتی د ښوونځيو تر سرمعلمی پوري ټول مقامات خپلو طالبانو ته سپارلي دي. دا که له يوې خوا بې عدالتي ده له بلي خوا د ټولني پر ټولو قشرونو او پوهو او لايقو کسانو باندي بې اعتمادي ده. يوازي بې اعتمادي نه ده بلکه ظلم دی. تاسي د هغو کسانو له خولو او د هغوی له عيال څخه ډوډۍ واخيسته چي يوازي يې له حکومتي ادارو او شرکتونو سره کارکولای سوای ځکه چي هغوی تعليم يافته او تحصيل کرده خاک دي. هغوی ټول ربړۍ نه سي چلولای او که يې وچلوي نو دا به لومړی ستاسي لپاره د شرم او خجالت ځای وي چي ماهرين او صاحب منصبان مو ربړۍ چلولو ته مجبور کړي وي. او دا به ټول ستاسي مخالف او دښمنان وي. د يوې ځانګړي ډلي او حزب حکومت هر وخت د استبداد او بې عدالتی سبب سوی او بالاخره په فنا محکوم سوی دی. د افغانستان خلک ډوډۍ نه لري او ستاسي يو اولسوال په يوه هفته کي دوه ودونه کوي. ستاسي دي په ياد وي چي د طالبانو او د هغوی د بچيانو شمېر تر سلو زرو نه زياتيږي خو په مقابل کي د افغانستان نفوس څلوېښت ميليونه دی. پر څلوېښتو ميليونو ناراضي انسانانو باندي، په وچ زور، د واک چلول او د هغوی خاموش ساتل د نړۍ پر مخ د هيڅ قدرت لپاره ممکن نه دی.
له خپل غرور څخه لاس واخلی. له نورو افغانانو، په تېره بيا ځوان او رسېدلي قشر سره، چي د حکومت او اداري چلولو په هره برخه کي اړتيا ورته ليده کيږي، ګډ حکومت جوړ کړی. په حکومت او حکومتي چارو کي ونډه درلودل د ټولني د هر مستحق فرد حق دی او حکومت د هيڅ چا شخصي مال نه بلکه د ټولني ګډ مِلکيت دی. د يوه ځانګړي ګوند او ډلي د قدرت انحصار نه نړۍ او نه هم افغانانو ته د منلو وړ دی. ځانونه له نړۍ او افغانانو څخه په لوی لاس مه تجريدوی؛ دا ښه عاقبت نه لري. د کابل په ښار کي وروستۍ چاودني، چي ښايی په وروسته کي تر دې هم زياتي او سختي سي، ستاسي لپاره ښه زېری نه دی. که نن د چين هيواد خپل اتباع له کابله وايستل سبا د پاکستان ، هند او ايران واردی. او دا به ستاسي د نظام د سقوط نخښه وي.
د قدرت نشه تر بلي هري نشې خطرناکه ده. انسان په سترګو ړندوي او په غوږونو يې کڼوي. او څوک چي هم ړوند او هم کوڼ وي هغه به حتماً په کوهي کي نسکوريږي او سترګي او غوږونه يې هغه وخت بيرته خلاصيږي چي بيا نو هيڅ ګټه نه لري او کار تر کار تېر وي.

و ما علينا الّا البلغ المبين.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ